**د افغانستان اسلامی جمهوریت**

**د عدلیی وزارت**

ACKU

# رسمی جریده

**د وزارت د سرپرستی قانون**

**د خپریدو نېټه د ۱۳۹۰ هـ.ش کال د غبرګولی د میاشتی (۲۱) پرله پسی نمبر (۱۰۵۱)**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**ګڼه: (۳۱۰۸)**

**نېټه: ۱۰/۳/۱۳۹۰**

**محترم څارنپوه حبیب الله (غالب) د عدلیې وزیر!**

د وزارت د سرپرستی قانون چې د ملي شوري د ولسي جرګې د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو سره د ۷/۴/۱۳۸۹ نېټې (۱۷۷) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۳) مادو او (۳) فقرو کې تصویب او د افغانستان د اساسي قانون د (۹۴) مادې د دوه یم بند د حکم له مخې توشېح ګڼل کېږي.

بناً نوموړی قانون له مصوبې سره یو ځای تاسې ته در واستول شو، څو په رسمي جریده کې یې په خپرولو اقدام وکړئ.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

ACKU

## مصوبه ولسي جرګه د وزارت د سرپرستی قانون د ټولو

## غړو په دوه ثلثه رایو سره

**پرله پسې ګڼه: (۱۷۷)**

**د تصویب نېټه: ۱۳۸۹/۴/۷**

د افغانستان د اساسي قانون د څلور نوي یمې مادې له حکم سره سم، ولسي جرګې د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ د اوومې نېټې د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د وزارت د سرپرستی قانون په دریو مادو او دریو فقرو کې د دویم ځل لپاره د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو سره تصویب کړ.

**څارنوال عبدالستار خواصي**

**د ولسي جرګې منشي**

ACKU

**د وزارت د سرپرستۍ قانون**

**<u>مبنی</u>**

دغه قانون د اساسي قانون د ۶۴، ۹۱او۹۷ مادو له حکمونو سره سم د وزارتونو د سرپرستی د تنظیم لپاره وضع شوی دی.

**لومړۍ ماده:**

جمهور رئیس یو تن په لاندې حالاتو کې زیات نه زیات د دوو میاشتو لپاره، د وزارت د سرپرست په توګه ټاکي:

۱- هغه وخت چې وزارت ته نوماند د ولسي جرګې له خوا ونه منل شي.

۲- د وزیر د مړینې، استعفي، د باور رایي د بېرته اخیستلو، عزل او یا سختې ناروغۍ په صورت کې.

۳- جمهور رئیس د پورتنۍ مودې په ترڅ کې یو بل شخص د باور رایې اخیستلو لپاره ولسي جرګې ته وروپېژني.

**دوه یمه ماده:**

هغه شخص چې د جمهور رئیس له خوا کوم وزارت ته نومول کېږي او د ولسي جرګې لخوا د باور رایه ترلاسه نکړي او یا وروسته د دندې د اجراء په وخت کې د باور رایه ور څخه اخیستل کیږي، په هماغه وزارت کې د سرپرست په توګه دنده نشي ترسره کولی.

**درېیمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه وروسته نافذ، په رسمي جریده کې خپرېږي، او په نافذېدو سره یې ټول هغه تقنیني سندونه چې له دغه قانون سره په مغایرت کې وي، لغو ګڼل کېږي.

ACKU